مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مومند محمدي اخړ

۲۰۱۹/۰۴/۰۵

# د پټې خزانې په اړه لنډ تحلیل

پټه خزانه له داسې قیمتي جواهرو ډکه ده چې پلوشو یې د پښتو ژبې د ادب تاریخ تیاره ګوټونه نه یوازې چې روښانه کړل بلکه له زیب او زینت څخه یې هم برخمن کړل، دا طبیعي خبره ده چې د خزانو په سر پاچاهانو هم جګړې او جنګونه کړي دي نو ځکه خو د محمد هوتک په پټه خزانه هم وخت ناوخت لړ تر لړه ناندرۍ وهل کیږي. دا ناندرۍ نه یوازې چې زموږ په تاوان نه دي بلکه پښتانه لا هم څک (متوجه) شي تر څو خپله دا قیمتي خزانه وساتي، هر غمی یې د ذوق په پستو ګوتو واړوي راواړوي او د جواهرو له اصلیته یې زړونه ډاډمن شي.

پټه خزانه چې د پخوانیو پښتنو شاعرانو تذکره ده محمد هوتک په (۱۱۴۲-۱۱۴۱) کلونو کې د پښتنو د هوتکي دولت پاچا او د میرویس نیکه د زوی شاه حسین هوتک په امر لیکل شوې ده. په نوموړي کتاب کې د پښتنو داسې شاعران یاد شوي دي چې د پښتو ادب تاریخ یې د دوهمې هجري پېړۍ تر لومړۍ نیمایي پورې رسولی دی چې د فارسي ادبیاتو له تاریخ څخه شاوخوا یوه پېړۍ مخکې دی، د فارسي ژبې ځینو متعصبینو دا حقیقت ونه شو زغملی نو ځکه یې د بې اعتباره کولو په کوښښ کې شول. نه یوازې دا چې د فارسي ژبې یو لړ کسانو شکونه وکړل بلکه څو تنو مستشرقینو هم شکونه څرګند کړل. چې د دوی له ډلې څخه پروفیسور مارګنستر هم دی، د علامه حبیبي (رح) په قول چې هغې ورته په خپله خوله اعتراف کړی و چې په پښتو ژبه کې دومره مطالعه نه لري تر څو یې پر ادبیاتو، د شعر پر سبکونو او د تحول پر دورو خبرې وکړي، پر دې سربېره پټې خزانې په پښتنو کې هم ځینې شکاکان پیدا کړل چې د دوی له ډلې څخه تر ټولو مشهور یې قلندر مومند دی.

د فارسي ژبو شکاکانو لپاره د پټې خزانې په اړه د ایراني ژبپوه علي اکبر دهخدا دا کلمات بسنه کوي چې وایي:«کتاب پته خزانه (گنجینه پنهان) که بسال ۱۱۴۲ در قندهار نوشته شده با استناد کتب قدیمه پشتو برخی از منظومات و اشعار پشتو را که به قرن دوم هجری تعلق دارد نقل کرده است...»

همدارنګه وایي:« پته خزانه یعنی گنجینه پنهان تالیف محمد بن داود خان هوتک تذکرة الشعرای مهم زبان پشتو...»

د مستشرقینو ځواب پخپله علامه عبدالحی حبیبي په ډېر لوړ علمي تنقیدي استدلال ویلی دی چې د پټې خزانې په درېیم چاپ کې د سریزې په بڼه چاپ شوی دی.

په پښتنو کې د قلندر مومند پر ځینو شکونو تم کیږو نوموړی فرمایي:

۱- په داسې حال کې چې په پټه خزانه کې د لیکوال هم عصره شاعران بیان شوي خو بیا یې هم نوم پټه خزانه دی.

۲- د محمد هوتک په وخت کې د موضوعاتو داسې تقسیم بندي لکه څرنګه چې په پټه خزانه کې شوی ده په پښتو کې خو څه چې په عربي او فارسي کې هم نه وه مروجه.

۳- مرحوم حبیبي وایي چې د پټې خزانې نسخه یې د عبدالعلي اخوندزاده څخه ترلاسه کړې ده، دا خبره یې د اخونزاده له وفات څخه وروسته د پټې خزانې په اړه په سریزه کې کړې ده.

۴- په پټه خزانه کې د پښتو د پخوانیو کلماتو په اړه د قلندر شکونه.

پخوا تر دې چې د مرحوم قلندر د دې شکونو په اړه څه ولیکم غواړم پخپله د قلندر صاحب په جعلیاتو هم یو څو خبرې وکړم؛ تر ټولو ډېره د توجه وړ خو دا ده چې نوموړی پخپله هم په جعلي نوم (قلندر مومند) مشهور شوی دی په داسې حال کې چې اصلي نوم یې صاحبزاده حبیب الرحمن و، نو پخوا تر دې چې د پټې خزانې غوندې عظیم اثر د جعل ادعا وکړي څرنګه د خپل نامه جعل ته نه و متوجه شوی؟

د هغه یوازې یو بیت د بېلګې په توګه راوړم:

قلندره دا ارمان به ګور ته پټ ورم
اتفاق به پښتانه کې پیدا نشي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د دې بيت يوه مسره د خوشال بابا له دې بيت څخه غلا شوې ښکاري:

اتـفـاق پـه پـښـتـانـه کـې پـیـدا نشه
ګني ما به د مغول ګريوان پاره کا

د دې شعر د ليکلو پر مهال دوه احتماله موجود دي چې يا خو قلندر مومند ادبي غلا کړې ده او يا يې هم د هېرې ناروغي درلودله ځکه چې د خوشال بابا دومره مشهور بيت ته يې پام نه دی شوی. پر دې اساس نه خو د ادبي سارق او نه هم د هېرجن دلايل د قناعت وړ دي.
د قلندر مومند کوم شکونه چې موږ پورته ياد کړل هغه په هيڅ علمي استدلال نه دي ولاړ بلکه يوازې ګومانونه دي چې قلندر مومند يې د اثبات کوښښ کړی دی او په لاندې ډول يې ردوو:
د پټې خزانې د نوم په اړه ويلی شو چې د دې کتاب له ليکلو څخه د محمد هوتک اصلي موخه د پخوانيو شاعرانو د احوالو کښل وو، که څېل هم عصر شاعران يې پکې ياد کړي دي نو دا د کتاب فرعي برخه بللی شو، لکه چې مرحوم هوتک وايي:«د دې کتاب نوم دی پټه خزانه، ځکه چې دلته هغه احوالونه راغلي دي چې پټ وو او نه وو ښکاره» همدارنګه که چېرې محمد هوتک خپل همعصره شاعران په پټه خزانه کې نه وای ياد کړي نو مالومه خبره ده چې د نورو بې شمېره نومورکو شاعرانو په څېر به ورک شوي وای او نه به وای ښکاره!
دوهمه خبره يې هم د موضوعاتو پر تقسيم بندۍ باندې نيوکه ده او دا يې هم ويلي دي چې په فارسي او عربي کې داسې تقسيم بندي هغه وخت نه وه مروجه، خو برعکس که په عربي ژبه کې د اموي او له هغې راوروسته د عباسي دورې کتابونه وګورو نو منظمه تقسيم بندي پکې شوې ده، د بېلګې په ډول د احاديثو کتابونه لکه صحيح البخاري، صحيح مسلم او نور.
د ادبي نقد په برخه کې د بېلګې په ډول د ابو عثمان عمر بن بحر الجاحظ کتاب البيان والتبيين، د الآمدي کتاب الموازنة او داسې نور، چې ټول له ښه نظم او وړ تقسيم بندۍ څخه برخمن دي.
مرحوم حبيبي وروسته له هغې اړ شو چې پر پټه خزانه سريزه وليکي او دفاع يې وکړي کله چې ګومان پرستو د نوموړي کتاب په اړه شکونه راپيدا کړل او د همدې سريزې په ترڅ کې يې د مرحوم اخوندزاده يادونه هم کړې ده.
پر دې سربېره هغه کتابونه چې محمد بن داود هوتک په پټه خزانه کې ياد کړي دي او يا يې هم د سرچينو په توګه استفاده ترې کړې ده د علي اکبر دهخدا پخپل قاموس، دوکتور محمد صادق محمد الکرباسي په دايرة المعارف الحسينيه او پر دوی سربېره نورو پوهانو هم راوړي او دقيق بلل شوي دي.
د پټې خزانې د نثر ژبه د هوتکي دولت هممهاله پښتو ده چې شاوخوا درې پېړۍ پخوا دا کتاب پرې ليکل شوی دی، خو لکه څرنګه چې هغه مهال عربي ګرامر او رسم الخط پر زياترو اسلامي هېوادونو مسلط و نو ځکه خو يې يو شمېر جملې په ځانګړې ډول د روايتونو سبک هم د عربي ژبې د نحوې له دستوراتو سره سم ليکل شوي دي او د عامي پښتو په څېر نه دي لکه چې وايي:«نقل کا پلانی له پلاني څخه...».
د پټې خزانې د منتقدينو يو ګومان دا دی چې څرنګه ممکنه ده د دويمې هجري پېړۍ پښتو ژبه دې اوسنۍ پښتو ژبه ته دومره ورته وي، خو که پخوانيو عربي او يا هم فارسي اثارو ته وګورو نو هغه ژبې هم اوسنۍ عربي او فارسي ته همدومره ورته دي لکه څومره چې پټه خزانه اوسنۍ پښتو ته ورته ده. خو پر دې سربېره د پټې خزانې په اشعارو کې ډېرې داسې کلمې شته چې اوسمهال يې يا ښه بدله شوې ده او يا هم متروکې دي، د پټې خزانې د دې کلماتو د حل په اړه علامه حبيبي د پټې خزانې په درېيم چاپ او علامه عبدالشکور رشاد د پټې خزانې په فرهنګ د قدر وړ کار کړی دی، د بېلګې په توګه يې يو څو دلته ذکر کېږي:

کلمه ــــ مانا
اوره ــ د پسرلي وريځې
پاسوال ــ غالبا د پاچا او ساتندوی په مانا ده
نيز ــ سيلاو
سوان ــ ارامي
برغه ــ کېدای شي چې د ګټې او يا موخې په مانا وي
جنډې ــ ګل
ښکلل ــ ښايسته کول
مېرځمن ــ دښمن
من ــ پخوانۍ آريايي کلمه ده چې د ارادې او زړه په مانا ده


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کول کهول ـــ د سلیمان ماکو په تذکره کي هم دا کلمه شته
ډاډینه ـــ اطمینان
او داسي نور...
کوم څیز چي زیات ارزښتمن وي نو د هغې په اړه ډېرې خبرې اترې کېږي، هم مخالفین لري او هم مؤیدین، پټه خزانه رښتیا هم ارزښتمنه خزانه ده ځکه خو هر څوک ځانته ورباندې د تبصرې کولو ویاړ وربښي.
د مخالفینو کمزوري دلایل نشي کولی د پټې خزانې ستر ارزښت راکم کړي او دا د اندېښني وړ هم نه دي. د یادوني وړ ده چي د نړۍ تر ټولو معتبرې ښوونیزې، علمي او فرهنګي اداري پټه خزانه د خپلو ټولو ارزښتونو سره منلي ده، په دې هیله چي هر پښتون دا لوی اثر ولولي او د خپلو ویاړمنو نیکونو په ویناګانو باندې خپلې د ذوق تندې خړوبې کړي.
د پټې خزانې په اړه به دومره کمې کرښې کافي نه وي تر څو یې حق ادا کړل شي خو په اړه یې بېلابېلو لیکوالو په زړه پورې څېړني کړي. وروسته له دې چي د پښتنو په اړه یوه عقده یې شخص چي د خپل قلم عفت ته درناوی نه کوي د پښتو یو شیخ فاني سپینږیری سندرغاړی په خپلو خوږو خبرو تېرایستلو او د پښتنو ټولو ارزښتونو ته یې ورباندې سپکاوی وکړ نو له خپلو ارزښتونو څخه د پښتنو د دفاع پخوانی شعور راپورته شو او په اړه یې سخت غبرګونونه ښکاره کړل نو موږ هم ونه غوښتل چي له هغې کاروان څخه شا ته پاتې شو. که څه هم بوډا سندرغاړي د خپلو خبرو بښنه وغوښتله او هغه متعصب لیکوال د ټولو پر وړاندې مخ تورن شو، هیله من یو چي له دې وروسته د یوه ستر قوم پر خلاف د قلم استعمال پرېږدي او له خپل استعداد څخه د سالمي لیکوالی په برخه کي کار واخلي.

سرچیني:


1. پټه خزانه د محمد هوتک؛ دریېم او څلورم چاپ
2. د پټې خزانې فرهنګ د علامه عبدالشکور رشاد
3. لغتنامه دهخدا د علي اکبر دهخدا
4. المدخل الی شعر الپشتوي- دائرة المعارف الحسینیة، د دوکتور محمد صادق محمد الکرباسي
5. پښتو ویکیپېډیا
6. پټه خزانه في المیزان د قلندر مومند
7. د خوشال بابا کلیات





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ